مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محب‌الله زغم

۲۰۲۳/۰۶/۲۴

تعصب او خام فکري

زما په ګومان د تعصب یو لامل خام فکري ده. خام فکري په دې ښو څرګندېږي: د ځان پوره ګڼل، د واقعیتونو پر مطلقوالي باور، خپل ټبر/ خپله ډله تر نورو پورته ګڼل، خپلو باورونو ته د حقیقت په سترګه کتل او پر خپلو باورونو باندې غره کېدل. راځئ چې د یادو لاملونو ماهیت ته ځیر شو.

انسان کامل دی که ناقص؟

کامل هغه دی چې هرڅه کولای شي، په هر څه پوهېږي، هر کار یې سم او هره خبره یې سمه ده. مورږ وینو چې هر کار نشو کولای، په هر څه باندې نه پوهېږو او هره خبره مو خامخا سمه نه وي. انسان له هره پلوه نیمګړی دی. د فزیکي توان له نظره مو وس محدود دی. زمورږ فکر، پوهه او عقل هم ناقص دی، خو د بحث پر مهال ځان پوره ګڼو او دا له یاده باسو چې مورږ نیمګړي یو. همدا د ځان پوره ګڼل د تعصب لویه سرچینه ده. تعصب دي ته وایي چې خپله رایه او خپل باور بیخي سم وګڼو او د نورو هغه ناسم.

مفاهیم نسبي دي که مطلق؟

د کوهي اوبه په اوړي که راته سړې ښکاري او په ژمي کې تودې؛ خو اوبه هماغه اوبه وي. هېڅ فرق یې نه وي کړی. له یوې سندرې یو وخت ډېر خوند اخلو؛ خو بل وخت خوند نه راکوي نو دغه سندره خوندوروه وبولو که بېخونده؟ د ښوونځي یو شاګرد مثلاً احمد په خپل ټولګي کې اول نمره دی؛ خو کله چې بل مکتب ته بدلېږي، هلته شپږم نمره شي. د احمد د لیاقت په هکله به مو قضاوت څه وي؟ په دې دنیا کې مطلق نشته، بلکې هر څه نسبي دي. د کوهي اوبه په اوړي کې د هوا په نسبت سړې او په ژمي کې تودې دي. سندره په یوه خاص رواني (مزاجي) حالت کې خوند لري او په بل حالت کې یې نه لري. احمد په لومړي ښوونځي کې تر ټولو ټولګیوالو تکړه دی؛ خو په بل ښوونځي کې پنځه کسان تر ده لایق دي. که دا خبره ومنو چې په نړۍ کې هرڅه نسبي دي؛ نو په خپلو خبرو به زیات ټینګار ونه کړو.

زمورږ باورونه، دود او دستور به نورو ته هم مناسب ښکاره شي؟

په افغاني ټولنه کې ټیغ ایستل یو عادي کار دی او څوک یې بد نه ګڼي؛ خو په اروپایي هېوادونو کې بې نزاکتي ګڼل کېږي. عیسویان د خنزیر غوښه په خوند خوري؛ خو زمورږ یې په یادولو هم خوا ګرځي. د چین خلک د سپي د غوښې په خوند نه مړېږي؛ خو اروپاییان زمورږ په څېر ورنه کرکه کوي. د خنزیر غوښه زمورږ په مذهب کې حرامه ده؛ ځکه یې نه خورو؛ خو داسې ژوي هم شته چې مذهب یې د خوراک اجازه راکړې ده؛ مګر مورږ یې خوراک ته زړه نه ښه کوو لکه د یو ډول کارغه او ځینو بحري حیواناتو غوښه. د هند په ځینو قبیلو کې نجلۍ له چونګښ سره او یا له سپي سره ودېږي، دوی باور لري، چې له سپي یا چونګښ سره واده به نجلۍ له بلاوو په امان کړي. دغه کار مورږ ته بیخي خرافات ښکاري؛ خو ممکن مورږ هم داسې دودونه ولرو چې نور ورته د خرافاتو په سترګه وګوري. د هندي ټولنې د غریبانو لونې ځکه په کورونو کې زړېږي، چې پلار یې د جهیز پیسې نه لري. هلته رواج دا دی چې د نجلۍ پلار به خپل زوم ته جهیز ورکوي. مورږ ته د هندیانو دغه رواج ناسم ښکېږي خو مورږ هم همداسې بد رواج لرو. زمورږ ځوانان هم د ولور د نه لرلو په وجه بوډا کېږي. دلته وینو چې «ښه» او «بد» هم نسبي دي او تر ډېره بریده زمورږ د تفکر په ډول پورې اړه لري. نو ولې خپل هر کار، هر دود دستور او هر باور سم وګڼو؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مورږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

کوم قوم غوره دی؟

په ټوله نړۍ دوه کسان حتی دوه غبرګونې ورونه هم سل په سلو کې سره یو شان نه دي؛ نو د یوې ډلې یا یوه قوم په هکله به څنګه قضاوت وکړو چې ښه دی که بد؟ که هر رنګه معیار په پام کې ونیسو پر ډلو د مطلق ښه یا بد حکم نشو کولای. په ټبره بیا که دا هم ومنو چې «ښه» او «بد» نسبي مفاهیم دي. په هر قوم کې هم ښه شته او هم بد. کله چې د کابل په واټونو کې د هغو کسانو لوی لوی عکسونه وینو، چې زرګونه بې ګناه انسانان یې وژلي دي، کرکه ځنې کوو؛ خو ځینې خلك دوی یوازې په دې خاطر لمانځي چې د دوی په قوم پورې اړه لري. که د ښه او بد معیارونه پر ټولو یو ډول تطبیق نه کړو نو فکر مو خام دی.

ځوک چې د حقارت په احساس اخته وي، هڅه کوي چې په کاذب ډول خپل بروالی ځان او نورو ته ثابت کړي. د دې کار له پاره ځان په خپل قوم پورې نښلوي او په خپل قوم که د رښتیا او درواغو قهرمانان پیدا کوي، بیا له هغو قهرمانانو څخه اسطوروي موجودات جوړوي چې تر انسان پورته او له عیب او نقص څخه مبرأ وي. دی په حقیقت کې د دغه خیالي او کاذب قهرمان په وجود کې خپل حقارت پټوي. له بلې خوا ځوک چې ځان ورته کم او بې اهمیته ښکاري، خپل قوم تر نورو ښه، مېرنی، باتور، با ننګ ... ښیي او په دې ویاړي چې دی هم د همداسې یوه قوم وګړی دی. حال دا چې هېڅ قوم تر بل قوم غوره نه دی. د افرادو په شان قومونه هم خپلې ښېګڼې بد ګڼي لري نو پر خپل قوم فخر کول، خام فکري ده.

په ایمان کې زمونږ نقش څه دی؟

کله چې د ځینو خلکو عقیدې او عباداتو ته ګورو، نو خندا راځي چې دا څه کوي؛ خو هغوی ته خپله عقیده هغومره سمه ښکاري لکه مونږ ته چې خپله عقیده صحیح بریښي. د عقیدې لپاره مونږ هم ځان قربانوو او هغوی هم. دا ځکه چې انسان ځان غوښتونکی دی. د اروا‌پوهانو په نظر په انسان کې تر ټولو غښتلې غریزه ځان غوښتنه ده. که ځوک ښه کارونه کوي که بد، د دواړو محرک ځان غوښتنه بلل کېږي. انسان ته خپله عقیده د خپل شخصیت تر ټولو مهم توکی دی ځکه خو یې په اړه نقد او سپکاوی نشي زغملی. که د چا عقیدې ته په بد نظر وګورو، مانا دا چې پخپله هغه ته مو په بد نظر کتلي دي. دا باید هېره نه کړو چې دلته د عقیدې د سموالي او ناسموالي خبره بالکل نه ده مطرح؛ بلکې دا د ټولو انسانانو شریکه ځانګړنه ده او هېڅوک خپلې عقیدې ته د شک په سترګه نه ګوري.

بله خبره: زه ځکه مسلمان یم چې خدای پاك په افغانستان کې په یوه مسلمانه کورنۍ کې پیدا کړی یم؛ نو په دې مسلمانۍ کې زما کمال او زما ونډه څه ده؟ که مې زوکړه په اسراییلو کې شوې وای؛ نو اوس به یهود وم او که د کوم هندو په کور کې پیدا شوی وای؛ نو هندو به وم. ما ته چې خپل ایمان سم ښکاري؛ نو باید له خدای څخه مننه وکړم، چې زه یې مسلمان پیدا کړی یم، نه دا چې پر هغو باندې چې مسلمانان نه دي، ملنډې ووهم. انسان د یوه ټولنیز موجود په توګه تل په دې لټه کې وي چې خپل همفکره، هم ذوقه، او همرنګه کسان وموميي یعني داسې کسان چې ورسره مشترک وجوهات ولري. کله چې تاسې له یوه نابلد سړي سره مخامخ کېږئ له هغه د اوسېدو ځای، قبیلې، کسب و کار ... په اړه پوښتنې کوئ. فرضاً د هغوی په سیمه یا قبیله کې یو ځوک پیژنئ؛ نو بیا د هماغه سړي پوښتنه ورنه کوئ چې پلانکی پیژني؟ که هلته ځوک ونه پیژنئ؛ بیا د نورو مسایلو په باب لکه ذوق، مفکوره، کورنۍ ... تر هغو پوښتنې کوئ چې له هغه سره کوم مشترک اړخ پیدا کړئ. د دین په برخه کې هم هر انسان هڅه کوي چې خپل هم عقیده او هم باوره کسان وموميي او لا یې زیات کړي. تاسو ته به معلومه وي چې د ډاکټر ذاکر نایک د ویناو په برکت وخت نا وخت یو شمیر خلک مسلمانان کېږي. هغه د خپل منطق او استدلال په برکت د دین خدمت کوي. که مونږ ځان ته دا حق ورکوو، چې نور خلك خپل دین ته راوبولو؛ نو ولې دا حق نورو ته هم ورنکړو؟

مونږ هم د نورو ادیانو د پیروانو په ځېر باور لرو چې دین مو غوره او بشپړ دی، نو ولې باید له دې ووېرېږو چې پلانکی د بل دین تبلیغ کوي او زمونږ مسلمانان خپل دین ته وربولي. ډاډه اوسئ چې حق او بشپړ دین ته هېڅ ځوک زیان نشي رسولای. که د خپل دین پر غوره والي او کامل والي باور لرئ نو باید بې غمه کښئ او هر چا ته حق ورکړئ چې د خپل دین تبلیغ وکړي. فارسي متل دی وایي: «مُشک آن است که خود بوید، نه آن که عطار گوید.» نن سبا هغه وختونه تېر دي، چې ځوك دې د توري په زور مسلمان کړو. دا د منطق دور دی.

د پای خبرې:

د ډیکتاتوري نظامونو لوی عیب دا دی چې خپل وګړي په دې باندې رټي چې ولې د دوی (واکمنې ډلې) په شان فکر نه کوي. د خپل هېواد وروستیو کلونو ته به وګورو: د خلکو ډیموکراتیک ګوند غړو خپل عام هېوادوال یوازې

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په دې تور بنديان کول او وژل به يې چې د دوی په څېر يې فکر نه کاوه. د جهادي تنظيمونو کار هم همداسې و. هغه ته چې له روسانو سره په جنګ کې وژل شوی و، هم شهيد ويل کېده او هغه ته چې د تنظيمونو په خپل منځي جګړو کې وژل شوی و، هم. هر تنظيم يوازې ځان برحقه ګانېه، نور ټول ورته ناحقه ښکارېدل. طالبانو هم خپلې جګړې ته جهاد وايه او د شمال ائتلاف هم. د منطق له نظره دا ناشوني ده چې دواړه مخالف لوري دې په حقه وي. طالبانو به ټلويزيونونه ماتول چې ناروا دي خو اوس پخپله د خپلو عملياتو، د انسان د سر د غوڅولو او د ځانمرګو بريدونو فلمونه ډکوي او په انټرنټ کې يې خپروي. دوی پخوا هم د شريعت ناړې وهلې او اوس يې هم وهي. د خلکو د ډيموکراتيک ګوند د غړو له مفکورې رانيولې د طالبانو تر عقيدې پورې د ځمکې او اسمان توپير او تناقض شته؛ خو د دې ټولو ډلو د ګردو ترسره شويو اعمالو اصلي محرک يو شی دی او هغه تعصب او خام فکري ده.

افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ